د هغــی دري زامــن پــیدا شـــول
زه لـــیونـــې یی د یــــاری تمه لــرمه

تــه پــه امتـــحـــان کـــی ځان کامیاب کړه
په شیـرینی کي نامـزادي درسره کړمه

سر مې خوږیږی جوړه نه یـــــــم
په ما میڼنه یاره وکړه تعویــــــــذونه

ستا د کوژدی خوبونه وینــــــــم
لیـــدلي خوب می دی خـــداي نه رښــتیا کویــنه

موری ســتا ورور زمــا مــامـا دي
حــق زمــا دی لور بــه مــاته راکــوینه

مکـــتب یـــی دولـــس کـــاله ویـــــلې
دولس جـــرګـــې به د مشـــرانو ورلـــیږمه

Ketabton.com

واړي جـــینی یــاري شــروع کــــــړه
لویه به نه شي لاس وهونکې شـوه مئینه

آتـــڼ واړو جـــونو تـــازه کـــــــــــــړ
دا مــیخـــی ناستي د میړو کړي صفتونه

تیـــنګـــه وعـــده راســره وکـــــــــړه
د جـــینـــکو پـــه وعـــدو نه شتـــه باورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سره جوړه مکتب ته مه ځه
ټول هلکان دی د درسو ویستلې دینه

د میلمانې جینۍ یاری واه
نه مي د ځان کړه نه یی خلاص د غمه شومه
د دیرو یاره خوښ مي نه شوي
لکه رباب دی هر سړې په عیږ کی ږدینه
د پوهنتون لایقه یاره
قربان قربان دي د ناکامۍ ورځي شمه

زما دننه زړګې ژاړي
محفل کي خاندم په ځان ځوک نه خبرومه
حبر مي کله کله اخله
په زړه کافري جینۍ مړ درپسی شومه
که د جمغي په شپه رانه علي
تبر به واخلم کت به شپاړس ټوټې کړمه
څه د ماما لور خو نه یي
چی ناز ادا به دي په نیمه شپه کی وړمه

سره اننګې سترګي دی غټي
بربندي مټې ګرځیدي مئین دی کړمه

تا چي دا سپین ټیکري په سر کړو
زما په زړه دي جینۍ پوري کړل اورونه
کوژده می کړي واده مي نه کړي
سړی دوښمن کړي چی کراری ناسته یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رانــجــه دي ورک شــي زر پــاکـــيږي
جينـــۍ تــه وايــه دنکــريزو حــال دی ږدينــه
پــه ناويــتوب کــي ســره لامــبه شــي
دا ســـتا په تمه د واده نه پــاتي شومـــه

کــه دي دوکــه راسـره وکــــــــړه
ستــا په واده کـــي به ځــانمرګــې بريـد كوومه
لالـــيه ښــه تعــليم کـــــــاوومه
تـا به اوزګـار کړم کار به زه درته کـاوومه

راځــه چــي چـاته محــامح شــــــو
جـانانه ښـکلي يي کــه ښکلې درنه يــمه

زه بــه دي ګــوتې تــه غــمي کړم
خـــلک به وايـــی يار په ګوته ګــرځوينه

پــه نــاز د هــري پــيعــلي مشــــــري
په عــمر کشــري ليــونۍ درپسی شومـه

زمــا پــه مح کـــي بـل تــه خــــــاندی
زما د صبر امتحـــان اخـــلي مئېنــــــــه

پـــه ســپــينــو مــټو کــي تاويــــــږي
بــنګړۍ خــانان دي چي لـيلا يی ګرځويـنه

چـــي ماســتري يــي کــړي نــــه وي
د دولسم پــاس هـلک تـه لاس نـه ورکومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه بــه يــي خــنګــه ديــدن وکــــــړم
ورسره مشره حور جوړه مکتب ته ځينه

پــه پــيښــوري جــينۍ مـئېن شــــوم
د ديورنــد کرښــه ورانووم ورپسي ځـمه

ما درته وخندل تا شاه کـــــــــــړه
بيا به ونه خاندم که مــ ړه د مينې شمه

ته مى د  حـــاله سه خبر يـــــــــي
لکه غنم دزړه په سر  چــــــاودلې يمــه

ماته دزړه له سره ګران يــــــــــى
افسوس جانانه زه دى ونه پـيژنـــــدمه

قسمت زما که مې د يــــــــــار دي
په اور دې وسوځي د دواړو قسمتـــــونه

زما او ستا روغه يې ونۀ کــــــــړه
زۀ به ښېرې د کلي مشر ته کومـــــــه

په تور پيکي مې يار رنځور کـــــــړو
سبا خوارې زلفې ورځم چې مړ يې کړمه

ارمان به وکې وخت به تيــــــــر وي
خلک به ډير وي څوک به لاس نه درکوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

که زما څـــومره مجبـــــــوري وه
دا مې وعده ده تا به نه خفه کـــــومه

چې په زينـــه ښتلی نه   شــــــــې
نامردې ولې دې ګېبې پرتوګ کاونــــــه

ياره که وس مې رســــــــــيدلي
لکه سپوږمۍ به دې په بام ولاړه ومــه

د يار کنځل د ګل ويشــــــــــتل دي
بد يې خندل دي چې يې بل سـره کوينه

هلکه چپ شــه قـــرار کېنــــــــــه
پوره به نه کړې دجينکو فرمايشــــونه

امـــــر يې په چوپــه خوله منــــــمه
که انډيواله مې ملګرې دژوند شيــــــنه

سترګې دې ښــــې دي بــدې نـــــه دي
د لرې لرې دې کتل مئيـن دې کړمـــــــه

لاس په نــامه درته ولاړ يـــــــــــم
ملــې سروده احترام دې تـــل کوومــه

ته په پېسو مئين يې يــــــــــاره
وطن ته راشه زه په تا مئيــنه يمـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليلا تګـــمنه شوه ښـارۍ شــــــوه
دمخ ديدن پســـې مې هر وخت زوروينه

جانان زما د مـــح رومـــــــــال دی
رومال مې ورک شو مخ مې ونيــــــول ګردونه
پاس په کابل واورې وريــــــــــږي
زما پـــه زړه باندې وريږي ستا يادونـــه

د ســرو بــنګړي مې کور کښې ايښـــې
پلاستيکي په لاس کــووم تا شرموومــه

شکـــر چې تا لرمه خـــدايـــــــــه
په بندګانو دې زه هسې نازيدمــــــــه

پخــــــــوا به کله کله راغلـــــــي
اوس دې زړګــی زما نه صبر که مئيــنه

زړګی داده کړه اوښـــــکې وچــــــي
که ژوند باقي وو بيا به وکړو ديدنونـه

اوس مې د کــــور کارونــه زيـــات دي
سبا چې پير بابا ته ځم ديـــدن دروړمـه

خبري لنـــډي لنـــډي وايـــــــــه
د جمعې شپه ده ميلمانه راغلي ديـــنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حســـن دې ورځ په ورځ زياتـــــــيږي
يا شهزادګۍ ئې يا دې کوډې کـړي دينه

په انديښنو مې ځان باچـــــــــــا کړو
چې سر مې پورته کړو ملنګ د دنيا وومه

خندا د هر چا سره خوند کــــــــــــړي
د غنمو رنګو خندا کلي ورانويــــــــــنه

باران دې وي سيلۍ دې نــــــــــــه وي
سيلۍ ناترسه زما زلفي ورانوينـــــــــــه

ليچې مې ډکي له بنګــــــــــــــــړو دي
لاليه ستا واده کښې يو يو ماتومـــــــــه

کمڅۍ دې وسپړه نيازبينــــــــــــــــــې
زلفي خوري کړه په بالښت چې اوده شمه

پېزوان په لوړه پوزه خوند کــــــــــــړي
په لنډه پوزه مېښکی مزه کوينـــــــــــه

سترګي دې سري ډير دې ژړلـــــــــــي
د کور کافرو درته څه ويلي دينــــــــــه

د تور پيکې بلا دې واخلــــــــــــــم
د نور بدن بلا دې مور واخله مئينــــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

که شهزادګان مخې ته راشـــــــــي
زه د سکښې جانانه نه توبه کومـــــــه

یو مې اوګۍ بل مې باهو شـــــــو
زرګره ټوله دې یارې ته جوړه کړمــــــه

جانانه ستا نه کمه نه یــــــــــــم
که تا چینار یې زه د ګلو ونه یمـــــه

زه به سندرې درته وایـــــــــــم
ته په مړوند زما کوه راته خوبونــــــه

د نازولي جینۍ پـــــــــــــلاره
چې دومره ښکلي لور لرې نوکر دې یمــه

جانانه راشه که مې ګـــــــــورې
تورې جامې راسره څومره خونـــد کوینه

چمبه په ورو وهه مکـــــــــــارې
باندې حجره کښې میلمانه کوي مونځونه

لیلا د حسن خاپیـــــــــــرۍ ده
د چین ماچین خاپېري ټول ورله راځینه

د سرې ډولۍ خاونده مه شـــــــــې
نصیب دې مه شه په نکریزو سره لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سترګو جنګ نه خــــــــــبر نهٔ وم
خنجر خنجر بانهٔ پهٔ زړهٔ ولګېدمـــــــه

بنـــګړي نيم ښکته کــړه نيم پورتـــــه
چې په خالي مړوند دې سر ولګومــــــه

لاس نه مې ونيسه غورځيــــــــــــږم
په تا بايللی زړه مې ځائ له نه راځيــنه

په نوم دې ډېر خلک يادېــــــــــــږي
په رنګ دې يو نشته چې زړه پرې تـــازه کړمه
زړه مې پنځوس ځايه مئيــــــــــن دی
څلويښت واده شوي لس بدرنګه پاتـــې دينه
د لاس مې بله نښه واخلــــــــــــــه
رومال مې ماخله زه پرې اوښکې پاکوومه

شين دې کميس ســـپيني د پـــونـــــدي
د ظالـــم لـــوري زه دې روغ لـــيـونـــی کړمـــه
ښکارې چې ته هم شوګيرې کـــــــړي
په نيمه شپه دې ده بنګړو شرنګار راځينه

ته په بدرنګو کې بدرنـــــــــــــګ وې
خړسترګې زه وم چې په تا مينيـــــــدمه

د وينو ډکه خوله يـــــــــــــي راوړه
جينۍ په يار پسې بنګړې خوړلي دينـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په بنې سلام وايـــــــــــــــه
جانان مې زوړ کړو او تا اوس واهــــــى خالونه

کټه څلور دې بازوګـــــــــــان دي
پينځم مې يار شپږمه زه دروخـــــــتمه

وړوکـــے نهٔ ئې چې شرميـــــــــــــږي
پلار ته مې وايه چې په لور دې مئين يمه

جينۍ واده شوه لور ئي وشـــــــــوه
زه ئي تراوسه په دادا جرګي کوومــــه

زما يارئ ته به ټينک نه شـــــــــــي
د سلو ګزو نه زه يو کميس کوومـــــــه

مخ ته مې مه راځه شرمـــــــــيږم
پټه خبريږم چې مې تاله درکويـــــــنه

جانانه راشه ما واده کـــــــــــړه
په جوارګر بابا مې نشته عتبارونـــــــه

کــه تــوره يــم تــا بــه رنځــور کــــړم
د يــارانــې تاثــير په سترګو کى لرمــه

جــينــۍ بــدرنـګه ده که ښـکلـــــې
زما خــوښيږى ورسره ميــنه لـــــرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

که لیونۍ مینه مي عــــــــواړي
شیــریــنه یاره ناز مي وړه ناز دي وړمـه

سترګـو تـه یـو سیـلاي بـــس دي
دوهم عبث دي دریم یی کلۍ ورانویــــنه

ستا له مــینی به وا نـــــــــه وړم
که مخالف می شي ملګری ملــــــتونه

جـانان فزیک عم یی الجـــــــــبر
ناز یی کـیمیـا ده زه یی مالګی اوبــــه کړمه
خـالونه یـو وي یــــــــــا دوه وی
جینـۍ په زنـــــــه لکه مـۍ کرلۍ دینه

ځمکې تــه ټیــټ شـه خـاوري ښکل کړه
لایق دي نـه وم پاک الله درکړي یـــــمه

په اشارو بـاندی می پوه کــــــــــړه
باران وریــږی عــږ دي نـــه راځــي میځنه

بـوي د لـــمدو نـکریـــزو راغــــــــــۍ
د کـــومي پیغـلي د کوژدي دستمال بـــه وړینه
نـــن رانــه ټینـــګه عــیږه واخــــــله
یـه مـا مئېن محــصله نـــه می درکوینه

زړګـــۍ مــي تــا وړي مـــحـــــــصلي
اوس یی چیپټر کـــړه پکــۍ وایه سبقونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

توری جـــامی درسره خـــونـد کــــــــړي
د رنګه سپـــینه یی ښایسته ښکاري مئېنه

د جـینـی مـړاوي مـړاوي ستـــــــــــرګي
لـکه ګـلاب چـــي د دوه نیمو ورځو وینه

پــه سـر نـرۍ لـوپټه نـــــــــــــــــه وړم
درنـې درنـې خــبري ستــا د دادا ورمـــــــه

ګـــیله مـــي دیـره درنـــه کیــــــــــــبږي
د ښـاره راغـــلي تـــا بــنګــړي هیـــر کړي دینـــه
پــه نیـمه شپه کی به را پاخـــــــــــــــــم
په نیمه شپه کــی به ښـیري درته کاوومه

خـــــداي به مـــي زړه له تانه تـــور کـــــــړي
په دوعاګــانو کی به مي عواړی نه به یمه

جـــانانه بحت تـــه دی خـــیران یـــــــــــــم
هم دي زخــمی کړم هم دوعا درته کوومه

شکـور چـــی تـــا لـرمه خـــــــــــــــــــدایه
پـه بنــده ګــانو دي زه هسی نازیــــــــدمه

نـــوی مـــئېن یم نــه پوهیـــــــــــــــــــږم
کومه خـــبره به اول ورته کـــاوومـــــــــــه
-

(c) ketabton.com: The Digital Library

بي شـرمـی توره وي که سپـیـــــــنه
مور می په کټ کـي مات بنګـړي لیدلی دینه
مــاته چـي نیعه نیعه کیـــــــــړي
نیعه دی پلار تــه شه چی نه دی راکوینه

زمــا په زړه کــي درته څـــــــــه دی
ته چــي لالا لالا کوی برباد دي کړمـــــه

حسن دی کم عـوسه دی دیـــــــــره
خــلک د حسن مطابق  عوسه کوویـــنه

زمــا پخــپله زړه نـــــــــــــرۍ دی
ستا عریو نیولي عـړ مــی زړه ســـوری کووینه
داسی کتــل زما عـــــــــــادت دی
نه مـی آشــنا یی نه مئین دربادندی یمـــه

زما نه کشـره حــور واده شـــــــــوه
د کــاکا زویــه زه دا ستا په تمه یـــــمه

په لاره ځــم توبي وبــاســـــــــم
ستا د یاری توبی می حولي ته نه راځینه

یــار د صفــت مختــاجه نـــــــه دي
په ګــلابونو عــطر چــا شیــندلي دینــه

ولـي دي بــن راباڼــدی وکــــــــړه
کــور مــی کوو اولاد به خـدای نه راکوونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر یی په سـور دستـمال تړلـــــــــي
خـدایه یـار جوړ کړي ما ناجوړه کـــــړي مېځنه
څـــه به دي وبښـم جـانانــــــــه
د خداي راکـړي خـندا تا بي برخی کړمــه

زمـا دي هسی ژوند بربـاد کـــــــــــړ
نه دی کړم خپـل نـه دي بـل تــــــــه پریښـودمه
ګلان تـول درنه لوګـې شـــــــــــه
په تـور پـیکی دي یاره مـه واهه لاسونه

کـله به یم کـله بـه نه یــــــــــــم
که بیخـی نه وم بیا به واژړي مئیـــــنه

جـینی زمـا په زړه پوهیـــــــــــږي
ځــکه جوړي د ورځي دري ځل بدلوینــه

زمـا به زړه له ځانه تور کــــــــــړي
جــانانه مـه کوه بدرنګ بـدرنګ حویونه

د ورځي خاندم مجــبـــــــــــوری ده
د شپي وړي سلګې تا پسي وهمــــــــه

د مـحبت کـافره رنځـــــــــــــــه
زمـا خیره د حپــه کیـدو نـه واه مئیـــنه

په نیــمه شپــه تپې را وکـــــــــــړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داعلي زړه به مي دوعا درته کوينه

څان ليونۍ کړه تر ما راشه
د ليونيانو لاري چا نيولي دينه

نن مي دا ښي مړوند خوږيږی
تمامه شپه پري جانان کړي دی خوبونه
نن مي په خپل مړوند ويده کړه
خپلي څپلۍ مي سر ته ديري ايښي دينه
خاوري ايری درپسی زه شوم
خاوری می زړه شه چي په تا مئينيدمه

د زړه مې يو الله خبر دي
د دونياګی خلک پري څله خبرومه

ګيري ته رنګ ورکړه چی څوان شی
چی د همزولو له پيعوری خلاصه شمه

حوری له تانه مي ګيله ده
زما سرۍ ته دی بدرنګ ويلي دينه

چا له ماسره کار نشته
دا سور کميس د يار په حوښه زه کاوومه

په سور سالو مئينه ياره
دا سور سالو به ياره ستا لپاره کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـه خـوک مـی ښه بولـي کـه بــــــد
را ټول بـه نه کـړم د سـالو پـلــــوونه

سـبا بـه بـيا بـازار تـه لاړ شـــــي
زمـا بنګړي دی ياره کم راوړي ديــــنه

ديــدن د نــاستو خــلکو کيـــــــړی
په سفـر تللی خـلک مي په خدای سپارلي دينه
پـه خــوله بـه وايم چي مـی هير يــی
کـه په رښتيا دی هيروم ورکـه دي شمه

مــازيـګر لمونځ دي قبـول مـه شـــــه
ديدن دی پريښود د ايمان غـــــــواړي سوالونه
الله دی تير کـړه سپيره کـــــــــاله
چـي خوله حـاندا تـه جوړوم نو و ژاړمه

په صـبر صبـر پوره نه شـــــــــوه
سـبا مـی نيت دي بـی صبری تـه مـــلا تړمه

ديري دوعــا راته ښـيری شــــــــوی
نوري ښـيری راته کـــوه چي دوعــا شينه

زمـا يـاري تـه به ټيـنګ نـه شـــــي
زه درجن بنـګړي د ورځی ماتوومــــــه

تسـلي مه راکـوه يــــــــــــاره
لاسونــه راکـړه سمـندر مــي درنه وړينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـکه خـزان واهـلي پـــــــــــانه
داسي مى زړه ورپســي پاڼي پاڼي شوونه

ورځـه ورځـه په عـرونـــــــــو واوړی
زه د بی ننګـو خـلکو نـه کړم ارمـــانونه

چـي خـنديدلـي زړه دی يـــــــــوړو
اوس بـه يـاره راسـره کـړي نـــــه دي پـريـدمه

زمـا د مـينې لـيونـي شـــــــــــه
د ظـالم لـوري ديـري په نـــاز به دي سـاتمه

ليدلى يار د چـا هيــــــــــــريږی
کـورونه يی وران شـه چی په مـا يـــي هيروی

ځان يې زړو جامو کې جوړ کـــــــړو
لکه په وران کلي کې باغ د ګلو وينـــــه

چې سترګې تورې کړم شرميــــــــږم
چې شونډي سرې کړم هلکان مـــــې ځوروينه
چې راپسې نشې قرآنـــــــــــه
زه د جانان لپاره لاس درباندې ږدمــــه

چې کلي واله مې ګڼـــــــــــلې
ځکه مې سوال د يـاراني درته کاونـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاونده ټوله مې ترې ځار کـــــــړې
زما په سر يې غرغرې منلي دينـــــــه

خدای خو دې دا ځلې راجوړ کـــــــړه
بيا مې توبه ده ښېرې نه درته کومـــــه

يو زخم نه دی چې به جوړ شـــــي هزار زخمونه مې په زړه دي
مړ به شمه

پــه مــا دوه مستي مـئيـــــــــــنی
که شولی بنـي کور به شــنه لوخړه شينه

ماته نيمګړي تعـويذ وکـــــــــــړه
چې نيم دی کلي او نيم د ښار پاتی شمه

کبر دي وکړ نصـيب دی نه شـــــــوم
دا ستا له قصده واده بــل سره کـاوومه

په زر روپو يې يــو قـــــــــــدم دي
ليونې زر قــدمه ګـدی ماته راځيــــــنه

بــيګا خبـرو کـی ويده شــــــــــوي
زه تر سـهاره چـوکيـداره ناسته ومـــه

ښې دې دېرې ما ســـــــــــره دي
ښې دې څه کړم چې دې ســـترګې نه وينمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما سره سمه سيالي مه کــــــــړه
ما د لنډيو سيپارې ويلي ديــــــــنه

خلک شراب وڅښي نشه شـــــــــي
ما د ليلا د لاس اوبه نشه کوينــــــــه

چې عاشقي يې کړې نـــــــــــه وي
هغه به څنګه د ايمان دعوه کويـــــــنه

خلک به وايي چـــــــــــــې وړه ده
وړې زما په زړه چړې منډلې دينــــــــه

ځان يې زړو جامو کې جوړ کــــــــړو
لکه په وران کلي کې باغ د ګلو ويـــــــنه

جانان په هيڅ نه رضا کيـــــــــــږي
د دروغجن ملا دې ورک شي تعــويذونه

يۀ لالي دوه مستې مئينـــــــــــــې
که خدای کړې بنې، کور به سره سکروټه شينه

مــا چی دا ستا سترګی ليـــــــــدلی
زما نه پاتی هعه ورځ دی سبقـــــــونه

لاس دی دزنـــــی لانـــــدی مـــــه ږده
ستابه عادت وی مابه ورکړی له وطنــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما هم خندل ما هم خوښی کـــــــوله
زه چې د زړه په رنځ اختــه نه وم میــنه

غم دې د غاښ له درده زیـــــــــات ده
په ما چې راشي شپه په ویښه تېره ومه

چې مادیګر شی ښکته لمر شــــــــــی
ماسره غم شی چې جانان به چیرته وینه

که دی دا لیونــــــــــــــــــې نه وی
قسم دی ډیر به سرته واچوی لاســـونه

لالیه غبرګ راســـــــــــــــره ژاړه
بیلتون راغلی ما تا له مانه بیلویـــــنه

په تور پیکي مې یار رنځــــــــــور کړ
سبا خورې زلفې ورځم چې مړ یې کړمه

ثواب ده سپینی پګړی ډیـــــــــر دی
زه ده خوستوالو په پکول مینه یـــــمه

مشره منه ده کشره ملـــــــــــته ده
مشره خواږه ده کشره وړکې ټوخوینــه

پلار ته دی وایه چی رضا شـــــــــی
کنی ټیکری په ساراوم تاتخته ومـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نيمه به وکـــــــــړم
ويده به ويښ کړم، ويښ به ټول وژړومه

په نيمه شپه بيداره اوســـــــــه
په غوږ به واوری دمئـــــــينو آوازونه

چې ورونه مرې خويندي دې مړې شــې
بې روره خور به ناز په چا باندې کوينــه

په نيمه شپــه ديدن تــه راشــــــه
خــلک ويده وی ستوري نه وايی حــالونه

په ناپوهی مــی زړګې در کـــــــــړ
مکــاري ستا په مـکر زه نه پوهيـــــدمه

اوس به دی ټول نشه نشه کـــــــړم
چی خوماري سترګی په ناز در واړومه

تاسره توری جامی خونــد کــــــړی
لکه سپوږمـی توره شپه کــی خونـــــد کوينه
هيځـکله مه وايه چی زه يــــــــم
ما پــاچاهان د دار په سر ليدلې يــــمه

زمـا په مخـکی بـل تـه خـــــــاندی
زما د صبر امتـحــان اخـلی ميـــئنه

ته خـو د بل وای د پخــوا نــــــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه لیـونۍ درباندی هسـی نازیــــــدمه

د زما د زړه د سر عـنــــــــــــدلي
راوړي بل یی زړه زما درپسی چوینــــه

خــدای دی زمــا د مور انــګور کـــــړه
زه په مـور ګـران یم ستا به دیر قـــدر کوینه
کـه لـعمانی یی زما یـار یــــــــي
که ننګرهاری یی بي نـکاح درسره ځمه

دا پیغلتوب به دی خدائ تیر کـــــــړي
جلکئ په تور اوربل دې مه واهه لاسونه

له مانه ولی ګیله مند یــــــــــــې
کم عقل یاره د پردو اختیار کې یـــــمه
-
بیګا مې داسې خوب لیـــــــــــدلې
نیم په کټ نیم د یار په غیږ کې ومــــه

د یارانې مې ورته ویـــــــــــــل
جنۍ وړه ده سترګې ښکته غړویــــــنه

بېلتون په ډېرو لوبي وکـــــــــــړي
دا یو ته نه یې چې ژړا کوې مــــــــینه

که غریبي نه واي جانــــــــــــانه
تابه لیدلي واي زما لیوني میــــــــنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته په هغو سترګو کـــــــــوره.!!
په هغه سترګو چې مئينه په تا يـــــمه!

لاليه غبرګ راســــــــــره ژاړه
د جدايۍ خوبونه ما ليدلي دينــــــــه

شکر کوه ناشکري مه کـــــــــړه
چې سپين مړوند دې زه تر سر لاندې کومه
وار به دې تېر شي لونګـــــــــينه!
تل به دې نه وي د سينې په سر ټالـــونه

په هديرو راشه زرګـــــــــــره
د پېغلو خاورې دي د غاړې امـــــېلونه

جانانه لړ لړ رانه هيـــــــــــر وې
کوم ځوانې مرګ شپيلۍ وهې غرقه يې کړمه

رومـال را واحـله اوښکې وچـــــــي
کـه ژوند باقي وو بيابه وکړو ديدانــونه

زما د دواړو سترګو تـــــــــــوره
د زړه له زوره ژړا تا پسی کاوومـــــــه

که زمـا مينه حـقيقـــــــــت وی
يو ورځ به په سرو سترګو واژړی ميـــئنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جدايي راغــله لاري دوه شـــــــــوي
مرګ مې قبول دي جدايی نه قبلوومــه

ســتا د ښايســته لهجې نه جار شــــم
کنه کنه بــه ويل مېئن دی کړمــــــــه

ستا د خوســتي لهجــی نه جار شــــم
چي ويلی ويلی دي کول ميئن دي کړمه

زما ويــده ويده نصـــــــــــــيبه
تــه چــي ويښيــږې زه به توري خــاوري يمه
ګــيله مــي ديره درنه کــــــــيږې
د ښاره راغـــلي تا بنګــړي هير کړي دينه

د چـا به يی کوم کوم ځــای حوښــيږی
زما يی ټول بدن کی سترګــي خوښـــی دينه
د ســری دولي په ارمان مړه شـــــــی
دا ستا په تمه د واده نه پاتـــي شومــه

د سری دولی په ارمان مړه شـــــــی
نصيب دی مــه شه په نــکريزو ســـره لاسونه
چــي خــداي رسـول چــاته په قــار شی
نصــيب يی خــوار شی په ور کړی ميـــن شينه

قسم په خُداي که مي لائق يـــــــی
ورکه پښتو شه ميراثی در پاتی يــــمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زرو قدر په زرگـــــــــــــــــــر وي
د نجونو قدر په نادانو زلمو ويـــــــــنه

د عاشقۍ محتاجه ژونـــــــــــــــده
مئين په يو يمه خيال د ټول کلی ساتــمه

په مخ څلور خالونه کــــــــيـــــــــده
په تا مئين په څلور مذهبه يـــــــــــمه

پۀ رقيب دوه فساده وشـــــــــــــــه
يو دې مئين شي بل دې ورک له ملــــکه شينه.
آيئنې ته گورم په ژړا شــــــــــــــم
بدرنگه نه يم په نيستۍ يې پرېښي يمه

زړگيه مۀ يې رانه غـــــــــــــــواړه
د اسمان ستورو ته مې نه رسي لاسونه

په سترگو ړوند شې راته گـــــــــوره.
لــکه د منې مياشت کړه ولاړه يمــــــه.

کله قراره قـــــــــــــــــــراري وي
کله د غم درياب د غم چپې وهـــــيــــــنه

په خولي توبي توبي اوباســـــــــــــم.
په تا مين زړگي توبي نه قبلـــــــوينه.

خلق سندرو ته گډيـــــــــــــــــــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په ځنګون ورته سر کېږدم وژاړمـــــه

جنانه راشه که مې ګــــــــــــورې
تورې جامې راسره څومره خوند کوینه

اخر به خاورې شی بدنـــــــــــــه
که د سروزرو درته جوړ کړم تابوتونـــــه

ډولۍ یې ودروه څاروانـــــــــــــه
ماته یې هم د یاراني وئیلي وونـــــــه

په عسکرۍ دې خفه نه یـــــــــــم
خفه په دې یم چې رخصت نــــــــــه درکوینه...!!

پل صراط به ورته نیســــــــــــم
په مراور جانان به غېږه بدلومـــــــــه

قد مې په ټولو پیغلو جیـــــــــــګ دی
لکه ننګرهار کې چې خرما ولاړه ویـــــنه

د کبرجنو خلکــــــــــــــــو زور دی
زما بنو کې اوښکې ډنډ ولاړې دینـــــــه.

زما پۀ مینه شک ونکـــــــــــــــــې
ما دیارۍ ګوتې پخې درکړي دیــــــــنه

که د اتو ځامنو مور شـــــــــــــــې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما به مینه پخوانۍ درسره ویــــــنه...!!

هلکه خدای دې ځوانیمرګ کـــــــــه..
چې په یارۍ نه پوهیدې رســـــــوا دې کړمه...!!

ترکلیوالی مینی ځار شـــــــــــــم
بازاری مینه له دوکو نه ډکه ویـــــــنه

خدایه دا مور یې جنتي کـــــــــــړې
لویه هغې کړه مینه ما سره کوینـــــــ ـه

کــه راکوې نو غاړه راکـــــــــــــه
د ګوتو څوکې خلک ورور ته ورکوینه

رباب زما پــه عــیږ کــی راکــــــــړی
زه مــی د خپــلي ځوانـي عم علتـــوومه

ده لالی سر دی سلامـــــــــــــــت وی
زما په سر دی د دنیا غمونه ویــــــــنه

تصویر د یار پکښې ښکاریـــــــــږي.
د تصّور شیشه چې زړه ته ونیســــــمه.

د مـیني تول مو سره وکـــــــــــړو
نیمه توله په جانان زیاته وختــــــــمه

ستا ده رباب ټنګ مې تر غوږ شــــــــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنډول په لاس منګي ته تږې ودریدمــــه

ړنده کنه درپسې ګرځــــــــــــــم
په لاس به راسې بچو خوښه به دې شمه

زما ښائسته ځواني زړیـــــــــــــږي
خدایه غریب جانان له ور کړې دولــتونه

ستا به ګیله له ما نه کیــــــــــیږی
ماته ګیلې له بېلتانه ولاړې دینــــــــه

عالمه راشئ ما سنګسار کــــــــړئ
اولاد د بل دي غم یې ما لره راځـــــینه

لکه د ونو ډیرې پاڼــــــــــــــــې.
دومره ګیلې مې په زړګي دي مړه به شمه.

رباب وهې ګوتې دي پري شــــــــــه
د نیمې شپې درته سرتوره ودریدمــــــــه

که زما خپل جانان ســــــــــړې وې
زه به د بل ډولۍ ته ولې ورختــــــمه

ده نصیب جنګ دی څه به کیــــــــږي
دی لیوني سره می روغه نه راځـــــینه

د تـنبل غـږ دې لـیـونـی کـــــــــــړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاورې دې مـه شه دا وږدو ګوتو سرونه.

په مینتوب به میړه وکــــــــــــړم.
پلار مې ملا دی کوندې نه مې مړه کوینه.

نن رانه ټینګه غیږه واخلـــــــــــه.
په ما میین هلکه نه مې درکویـــــــنه.

ګردې کـوچۍ جامي به وکــــــــم .
یاري به نه کـړم هلکان به زورومــــه.

رخصت دې واخیستو روان شــــــوې
پیوند دې نه کړل په چاړو وهلي زړونه

پۀ خوله دې درې ځایه مَیـــــــن یم.
نرۍ دې شونډې، سرې اورۍ، سپین دې غاښونه.

مینــه دې کړه پــه ســترګو ړونـــد وې .
بـــېلـــتون دې نه لیدو چې غرونه ړنګوینه

ستا د حُجرې یاران میرات شــــــــه.
تۀ ئې مشغول کړې زۀ یواځې ناسته یمه.

اوربل مي ټول په وروځو خـــــــور دی.
واک مې د مور دي چې مې چاله ورکوینه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تورو غرو نه دې فنـــــــــــا کړم
په زړه کافره یاره نه دې یادېـــــــدمه

د چاپه دار کمیس میرمنـــــــــــې.
په لاره راشه چې چاپې دې وشمارمه

شونډې مې تا پسې وتلـــــــــــــي.
خلکو ته وایم چې پېریان مې ډاروینه.

ته شه سرباز زه به ډاکـــــــــــتره .
دواړه به یوځای دوطن خدمت کوونه.

نوم د وبا لۀ ځمکې ورک شـــــــــــه
جینۍ د زنې خال په ماسک کې پټوینه.

جانانه راشه دیدن وکـــــــــــــړو .
کرونا دي نیسي بیا به نه وي دیدنونه .

لالیه تا ته ګناه نشـــــــــــــته
لېونۍ زه ووم چې په تا مئینــېدمه...

دا به له ما نه پوره نـــــــــــــشي
چې هره شپه دې په سوالو رضا کومه

راځه راځه چې سره تښـــــــــــتو
پاتې خبري به سپین ږیري خلاصوینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حـیـا د پـوزې سـر تـه راغـــــــلـه
جـیـنکۍ پـوزې پـټـوي، ستــــــــرګې پـریـږدیـنـه

په تذکیره کې شل کلن وېـــــــــــی .
زه دې د مخ له ګؤنجو څه خبره ومـــــه .

قد می په پیغلو کې مالـــــــــــوم دئ
زه افغانه د شازلمو د ملکه یـــــــمه

زما پخپله سر خوریـــــــــــــــږي
د کټ په لنګه راته مه کینه مئیــــــنه

پــه انتــظار به شپــه سـبا کـــــــړم
جــانان چــي هر وخــتي راځی را دی شیـنه

بې وفا هله راته وایــــــــــــــــــــه
چی ته لوګۍ شې زه لمبه نه شم مئیــنه

زما نه نه هېرېږي یــــــــــــــاره
په هر راکړی زخم شکر اوباســــــمه

د زړهٔ سکرین شاټ دې راته سینډ کړه
چـې جنکۍ دې پکې څـو سـاتلي دینه؟

ما ته دي خپل جانان رایاد کــــــــړو
شاعره مه کړه په غزل کښې صفتــونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده پیشمني اورونه بل شـــــــول
جینئ په سرو لاسونو چاے تیار وینــه

چې ګرده مرده میاشت ختمــــــېږي
تر ګل نازک به روژې ژېړ زبېښلی وینــه

خپل پېشلمی راځخه هــــــــېر وي
په فکر ستا یم چي جانان به څنګه وینه!

زمــا اووه ورونــه لښکـــــــــر دي
زه کـه سر تـوره پـکې ځـم پټـه بــــه یـمـه!!
دا رنګه بنګه به درځار شـــــــــم.
لکه انګور په ونه واچوي ځانګــــــونه.

دا لـرې لـرې نـا مـې ګـــــــــــوره .
کرونـا ظـالـمه مـې نـزدې نــــــــه در پـریـدیـنه .
جنۍ له رنګه درانـــــــــــــۍ ده .
که کرونا پریښوده د کابل منه به شینه

.پــه غـم شـریک مــې پیــدا نــــــه کړ
دنیا مې چاپ کړه، ګوټ په ګـــــــوټ وګرځیدمه
نــوري ښـیرۍ به درته نه کــــــــړم
رب دی په سره جوړه کـي کونده کړه مینه
د جانان عــمه لیونــــــــــــــیه
ته لیونې وای زه دی هم لیـــــونی کړمه

زما نصـیب کي جانان نشـــــــــته

(c) ketabton.com: The Digital Library

موري زما په نصیب مــه کوه جنــګونه

د پــټو زړونو خــــــــــــــــبرداره
پرباردیګاره لیــونۍ یار پســــــــــــی شومـــــــــه

د ســور ګــلابي کمــیس دی ځــار شـــــم
اعــوستي تــا دی مــزه ماته راکوینـــــــه

حــــال مــی د وریځو مــینځ کـــی کیښود
جــانانه مزه کــوی که وران یی کــــړمه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**